کامران احمدزی (د ۲۰۲۴ کال د دریمې کټګورۍ جایزې ګټونکی)

۱

که مو شروع ستا د نظر له اختتامه کړه
ستا د ښایئست کیسه مو هر بازار کې عامه کړه

زه ستا د مخ په تللو لارو خدای ته ورسېدم
خلکو چې مینه پیلوله، ما تمامه کړه

ستا له راکړې پیغور وروسته هم سړی نه شومه
خپله ارزو مې د خپل مړ ضمیر غلامه کړه

په تا پیدا باور به بیرته تر شک ورسېده
پخه وعده به وه؛ خو بیرته به دې خامه کړه

ستا د تخلیق صفت مې وکړ، ته غَره شولې
ماته یې څه تاوان، رابده دې له پامه کړه

بیلتون دې څه و، خو بس مرګ و په ژوندوني لیدل
هو، خپله غوښه وه ما بېله له اندامه کړه

ما که خپل ځان ورپسې مړ کړ، احمدزیه یاره
خو دا مې هم ښکته د خپل غرور له بامه کړه

۲

زما محبوبې
د ښائیست له جزیرو نه راوتلې اروا
او د ګلونو له شیرو جوړې نازکې پیغلې!

سلام مې واخله د خالق د ارتې ځمکې له یو داسې کونجه
چې په کې زه او زما ساړه ساړه اهونه اوسو

سلام مې واخله له ارام سمندر هاخوا د دېوانو مېلمنې ښاپیرۍ!

زه دې د سر سلامتي غواړمه؛
خیر که زه درنه هیرېږم، یا هېر کړی دې یم
کومه خبره نه ده؛
ماته مهمه ده، چې
زما د زړه دریاب کې ستا د غم بېړیو ته لا
ستا د یاد شمعې د فانوسو په څېر بلې ساتم
تر څو مې هېره نه شې!

۳
ستا خبرې په صحرا کې
له قاصده غورځېدلې
اوس هغلته
څو غونچې د سرو غاټولو
په خپل سر راټوکېدلې
دا دې درېیم سپرلی پرې راغی
خو دوی لاهم همغسې
ستا د شونډو له رنګونو
په جوړ شوي سور کمیس کې
خپل ځان داسې راټول کړی؛
لکه ناوې نه راتاوې
څو پردې وې د عطرینو نرمو نرمو حجابونو
چې کوټه یې وې په سر باندې اخیستي
**
ستا خبرې په صحرا کې
له قاصده غورځېدلې
اوس هغلته؛
د خوږو اوبو چینه راخوټېدلې
لارویان ورته ودریږي
چا د خدای د چینې نوم ورباندې ایښی
وایي
دا اوبه د هر مرض دوا ده
موده وشوه
ډلې ډلې خلک ښار نه ور روان دي

موده وشوه، په تعظيم سرونه واړه درته ټيټ دي
خو موده وشوه؛ ته نه يې ترې خبره
**

ستا خبرې په صحرا کې
له قاصده غورځېدلي
اوس هغلته
هره شپه د مينې څو سندرې زېږي
هره ورځ په کې يوه کيف لبريزه مسکا داسې راخوره وي
ته وا، باد د جنتونو پر عاصي بنده لګيږي
او خالق يې تماشه کړي

هر سهار په کې ماشومه هيله څو وړې وړې نانځکې کېږدي
هر ماښام په کې تنکۍ پيغله اوږده وېښته ږمنځ کړي
او د خپل ارمان بستر ته په يوه ساه
داسې ورشي
ته وا کوم موسی د خدای ليدو ته درومي
**

ستا خبرې په صحرا کې
له قاصده غورځېدلي
اوس هغلته
ملغلرې په ډاګونو کې پرتې دي
خلک واړه؛
ستا د در په لټه سر دي
ګوندې ته يې په لاس ورشې
د جمشيد جام به مونده کړي
د سليمان نګين به واخلي
خپل تېر عمر به له هرې سختې پرته
بيرته خپل ځان ته راستون کړي
خو لاهيڅوک خبر نه دي
چې ته څوک يې؟
څه دې نوم دی؟

ته مکان که لا مکان یې
ته تمامو ته موجود یې؟
که یوازې د خپل ځان یې!
**

ستا خبرې په صحرا کې
له قاصده غورځېدلې
اوس هغلته
څو غنچې د سرو ګلونو
لکه ستا د شونډو رنګ، راټوکېدلې
ما د خپل زړه له لښتیو
څو ویالې وینې ورکړې
زه وېرېږم؛
که دا نورې اوبه وڅکي
ښايي رنګ به یې بدل شي
بیا به مینه شي په ټول عالم بدنامه
بیا به ستا د خولې خبرې
داسې شي چې
هر سړی به یې تفسیر ته مخته کېږي

زه وېرېږم
هسې نه چې:

ستا د حسن د خالق صبر تمام شي
بیا به لویه الميه پر موږ خوره کړي
بیا به خدای راته په لاس کې
بله کړې دېوه مړه کړي